## صغیر او د هغوی حقونه



- د صغير غوره ګټې
- ژوند او روغتيا
- ګډون، غوږ نيول او معلومات
- د کورنۍ واحد
- ښوونځی
- زده کړه او دنده
- ګېم
- د استوګنې اجازه
- د ملنو مرکز

## ۷. که چېرته ستاسو د کورنۍ کوم غړی په ایټالیا یا اروپا کې اوسېږي، نو تاسو څه کولای شئ؟

- که چېرته ستاسو کوم خپلوان په ایټالیا یا اروپا کې اوسېږي، لکه ستاسو یو یا دواړه مور او پلار ، ستاسو ورور یا خور، ماما/کاکا یا خاله/ عمه، که تاسو غواړئ چې له هغوی سره و اوسېږئ او دا ستاسو په ګټه وي، نو دا حق لرئ چې له هغوی سره یوځای و اوسېږئ: یو قانوني پروسه شتون لري چې تاسو به له هغوی سره په خوندي توګه یو ځای کړې شئ، پرته له دې چې تاسې پیسې ورکړئ یا پر داسې کسانو تکیه وکړئ چې تاسو به د خطر سره مخ کړي.
- که چېرته تاسو د کورنۍ د بیا یو ځای کیدلو پروسې ته لېواله یاست، د پذیرش/استوګنې مرکز او یا خپل سرپرست ته خبر ورکړئ. هغوی به تاسو ته تشریح کړي چې دا کار څنګه کېږي.
- د کورنۍ غړي سره د بیا یوځای کیدو پروسې ترسره کولو لپاره دولتي چارواکي اړین وخت ته اړتیا لري ترڅو هغوې ستاسو هیلو ته غوږ ونیسي، د کورنۍ اړیکې مو معلومې کړي، او معلومه کړي چې آیا ستاسو خپلوان ستاسو ساتنه په خوندي توګه کولی شي او که نه: چې هغوې یو کور، اسناد او دنده لري او که نه.
- ان که تاسو په ایټالیا کې اسناد اخیستي وي یا مو دلته په ایټالیا کې د نړیوال خوندیتوب/پناه غوښتنه کړې وي، تاسو بیا هم کولای شئ چې د اروپایي ټولنې په کوم بل غړي هېواد کې له خپلې کورنۍ سره بیا یو ځای شئ.
- که چېرته ستاسو د کورنۍ کوم غړی په ایټالیا یا اروپا کې وي، تاسو کولای شئ پرېکړه وکړئ چې له هغوی سره و نه اوسېږئ او خپلې پروسې ته دلته دوام ورکړې او له هغوی سره خاصاړیکه وساتئ.

## ۶. که چېرته تاسو له دې امله له خپل اصلي هېواد څخه را تېښتیدلي یاست چې ژوند مو په خطر کې و، نو څه کولای شئ؟

- که چېرته تاسو خپل هېواد د جګړې یا وسله والې شخړې له امله پرېښی وي، یا تاسو د نژاد، مذهب، ملیت/هویت، د یوه مشخص ټولنیز یا توکمیز ګروپ د غړیتوب، سیاسي نظریې، یا جنسي تمایل له امله له تعقیب سره مخ یاست؛ که چېرته تاسو کومه منطقي وېره لرئ چې بېرته خپل هېواد ته د استول کېدو په صورت کې ستاسو ژوند خطر سره مخ کیدلې شي یا کېدای شي چې له سخت زیان سره مخ شئ، نو تاسو حق لرئ چې د نړیوال خوندیتوب یا نړیوالی پناه غوښتنه وکړئ.
- تاسو حق لرئ چې په خپله ژبه کې د مرستې غوښتنه وکړئ تر څو خپل داستان بیان کړئ او ووایئ چې ولې مو خپل هېواد پرېښودې وو. تاسو کولای شئ ایټالیا ته له را رسېدو څخه وروسته یا د پذیرش یوه مرکز ته تر لیږلو وروسته دولتي چارواکو څخه د نړیوال خوندیتوب/ پناه غوښتنه وکړئ. بیا به چارواکي ستاسو شخصي وضعیت ته غوږ ونیسي او د نړیوال خوندیتوب لپاره به ستاسو اړتیاوې و ارزوي.
- که تاسو د خپلې کورنۍ (ستاسو مور، پلار، ورور او/یا ستاسو خور) سره ایټالیا ته رارسیدلي یاست او تاسو ځکه راتښتیدلي یاست چې ستاسو د کورنۍ کوم یو غړی د هغه دلیلونو له امله تعقیب شوی دکوم له کبله چې ته هم تعقیبدلی شې، نو تاسو حق لرئ چې د نړیوال خوندیتوب/پناه غوښتنه وکړئ

# خپل حقونه وپېژنئ

Save the Children



## ۸. که چېرته تاسو په خپله ژبه معلوماتو یا مرستې ته اړتیا لرئ، کولای شئ د ماشومانو د خوندیتوب ادارې له ټلیفوني کرښې سره اړیکه ټینګه کړئ

مرستندویه تیلیفوني کرښه یوه وړیا شمېره ده، که تاسو په ستونزه کې یاست یا مرستې یا نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ، کولای شئ زنګ ورته ووهئ.
تاسو کولای شئ غوښتنه وکړئ چې ستاسو په خپله ژبه درسره خبرې وشي.
تاسو کولای شئ چی له دوشنبې څخه د جمعې تر ورځې پورې د سهار له ۱۰ بجو څخه د مازدیګر تر ۵ بجو پورې زنګ ووهئ.
۶۱۰۱۴۱۰۰۸۹۳۰۰

**+39 800 14 10 16**

Save the Children

PAS



## ۱۱. د کلیماتو لېست

۱ . **د پذیرش/استوګنې مرکز** د هغه ځای نوم دی چې تاسو پکې اوسېږئ. دا کېدای شي لنډمهاله یا دایمي وي، د بېلګې په توګه هغه کور چې تاسو به پکې اوسیږئ او مطالعه به پکې پیل کړئ، ملګري به پکې وپیژنئ، او پر دې و پوهېږئ چې د خوندیتوب سیستم څه ډول کار کوي.

۲. د پذیرش/ **استوګنې** مرکز داسې **کارکوونکي/ لارښوونکي** ګوماري چې له هلکانو/ ا نجونو سره مرسته کوي تر څو خپل ټولنیز ژوند او شخصي پرمختګ یې تنظیم، مدیریت او ترتیب کړي

۳. کلتوري ترجمان هغه څوک دی چې ستاسو په ژبه او کلتور پوهېږي، څوک چې تاسو سره مرسته کولی شي ترڅو خپله لاره ښه پیدا کړي، تاسو پوه کړي چې څه به پیښیږي او تاسو ته ووایاست چې تاسو څه ته اړتیا لرئ.

۴. **رضاکار سرپرست**: که په ایټالیا کې له تاسو سره خپل والدین یا یو مسوول مشر کس نه وي، د ماشومانو لپاره محکمه به ژر تر ژره یو مشر کس ستاسو لپاره وګوماري چې ستاسو د سرپرست په توګه عمل وکړي تر څو له تاسو سره مرسته وکړي چې د خپل حال/اوس او راتلونکي لپاره غوره پرېکړې وکړئ او په قانوني توګه ستاسو استازیتوب هم وکړي.

۵. **ارواپوه**، یو مسلکي شخص دی تر څو تاسې سره داسې کلیمات پیدا کړي چې پوه شئ په خپل زړه او بدن کې څه احساس کوئ او ستاسو په سر کې کوم افکار دي.

۶. **ښوونځی**، داسې یو ځای دی چیرته چې تاسو کولای شئ ایټالیایي ژبه زده کړئ، عمومي مضامین ولولئ او بیا پرېکړه وکړئ چې ایا خپلو زده کړو ته دوام ورکول غواړې او که د کسبي دندې لپاره روزنه ترلاسه کول غواړې . دا داسې ځای دی چې تاسو کولای شئ له ملګرو سره وګورئ او پوه شئ چې ایټالیایي ټولنه څه ډول کار کوي

۷. **د قانون او نظم ځواکونه**، د پولیسو او کارابینیري په ګډون د ټولنې د امنیت ساتنې او مدني قوانینو ته د درناوي د تضمین مسوولیت پر غاړه لري. هغوی په ایټالیا کې ستاسو له حقوقي وضعیت سره، ستاسو د استوګنې د اجازې له صادرولو یا بیا نوي کولو سره سر او کار لري.

۸. **د ټولنیزو خدمتونو** اداره: یوه عامه اداره ده، چې ټولنیز کارکوونکي پکې کار کوي، هغوې دا مسوولیت پر غاړه لري چې په ایټالیا کې ستاسو د پرمختګ لپاره تاسو، ستاسو سرپرست او د پذیرش مرکز ته لارښوونه وکړي .

۹. **د ماشومانو محکمه**: دا یوه عامه اداره ده چې نظارت کوي او یقیني کوي چې هر هغه پرېکړه چې ستاسو په اړه کیږي هغه تل ستاسو په ګټه ده او که نه.



# خپل حقونه
# وپېژنئ

Save the Children



- تاسو حق لرئ چې په ایټالیا کې ژوند وکړئ او خوندي اوسئ
- تاسو حق لرئ چې اخراج نه شئ یا ستاسو د ارادې خلاف بېرته خپل اصلي هېواد ته و نه لیګل / استول شئ.
- تاسو حق لرئ چې خپل نظر څرګند کړئ، غږ مو واورېدل شي او په هر هغه پرېکړه کې ښکېل و اوسئ چې پر تاسو اغېز کوي
- تاسو حق لرئ چې د کم عمرئ لپاره د استوګنې اجازه نامه ( permesso di soggiorno per minor età ) ترلاسه کړئ.تاسو حق لرئ چې یو رضاکار سرپرست درته وګومارل شي تر څو له تاسو سره مرسته وکړي چې په ایټالیا کې پرمختګ وکړئ، مرسته درسره وکړي چې د خپل حال او راتلونکي لپاره غوره انتخابونه وکړئ.
- تاسو حق لرئ چې په یوه خوندي ځای کې و اوسېږئ او د پاملرنې/استوګنې یوه مرکز ته ولېږل شئ چې نور کوچنیان هم پکې اوسېږي. چې تاسو به وکړای شئ هلته ویده شئ، استراحت وکړئ، خواړه وخورئ، که ناروغ یاست پالنه مو وشي، د استوګنې اجازه نامه ترلاسه کړئ، ښوونځي ته لاړ شئ او پوه شئ چې څنګه خپلو زده کړو ته دوام ورکړئ او/ یا څنګه په ایټالیا کې د کار بازار ته داخل شئ.
- که چېرته ستاسو عمر له ۱۶ کلونو څخه زیات وي، کېدای شي تاسو د پالنې داسې مرکز ته ولېږدول شئ چې هلته نور لویان هم ژوند کوي: د یوه صغیر/کوچني په توګه باید ستاسو حقونو ته په هر حال کې درناوی وشي.
- که تاسو د خپل مور او پلار څخه یو یا دواړو یا د لومړۍ درجې خپلوانو سره سفر کوئ ، تاسو حق لرئ چې په داسې یو مرکز کې پاتې شئ چې کورنیو ته وقف شوی وي، او ستاسو د عمر او اړتیاو سره سم د ښه راغلاست او شاملولو پروسه درسره پیل کړي.
- تاسو حق لرئ چې له خپلې کورنۍ سره ژوند وکړئ یا له هغوی سره اړیکې وساتئ. که چېرته ستاسو مور او پلار، ستاسو ورور یا خور، یا ستاسو د کورنۍ نور غړي په ایټالیا یا اروپا کې اوسېږي، د پذیرش/استوګنې د مرکز کارکوونکو ته وواياست تر څو تاسو له هغوی سره د اړیکې بیا نیولو یا ټینګولو په برخه کې مرسته ترلاسه کړي او وکولای شئ چې له هغوی سره په خوندیتوب یوځل بیا یو ځای شئ، البته په هغه صورت کې چې تاسو دا کار وغواړئ.

## ۳. تاسو څنګه کولی شئ ثابت کړئ چې تاسو د ۱۸ کلونو څخه کم عمر لرئ؟

- که چېرته تاسو فکر کوئ چې ستاسو د معلوماتو د راجستر کولو پر مهال کومه تېروتنه شوې ده، تاسو حق لرئ چې په بېړه یې خبر ورکړئ.
- دا مهمه ده چې پوه شئ چې د ایټالیا د قانون له مخې دا جرم ګڼل کېږي چې ناسم نوم، تخلص، د زېږیدو ځای یا /هویت ورکړي . د ناسمو اسنادو ښودل هم جرم ده او کېدای شي چې تاسو باندی عریضه هم وکړل شي.
- که چېرته تاسو د یوه بالغ کس په توګه راجستر شوي یاست (۱۸ کلن یا تر دې لوړ)، ستاسو د عمر د معلومولو لپاره تر ټولو اسانه او خوندي لار دا ده چې د هویت یو سند (لکه پاسپورټ، تذکیره) دولتي چارواکو ته وړاندې کړئ. د عکس پرته یو سند کولی شي تاسو سره ستاسو د عمر معلومولو کې مرسته وکړي.
- که تاسو فکر کوئ چې ستاسو د هیواد قونسلي چارواکو سره اړیکه نیول به تاسو یا ستاسو کورنۍ له خطر سره مخ نه کړي، نو کیدلې شی چې تاسو سره همکاري وشي او ستاسو د عمر ثابتولو په خاطر د قونسلګرۍ نه د سند غوښتنه ترسره شي.
- که چیرې دولتي چارواکو یا د استوګنې ځای ستاسو د بیان شوي عمر په اړه ژور شک ولري، نو هغوې ممکن غوښتنه وکړي چې د عمر تصدیق کولو کړنلاره دی تعقیب شي. د دې کړنلارې په جریان کې تاسو کولی شئ د یو ټولنیز کارکونکي، یو ډاکټر، یو ارواپوه سره لیدنه وکړئ. د دې کړنلارې په ټولو مرکو او لیدنو کې، تاسو حق لرئ چې د کلتوري ترجمان او ستاسو سرپرست لخوا تعقیب شي.



## ۲. ستاسو شخصي معلومات څه ډول په رسمي توګه راجستر کېدای شي؟

شخصي معلومات عبارت دي ستاسو له نوم، تخلص، د زېږیدو ځای او نېټې څخه
د ایټالیا او اروپا په قوانینو کې په صراحت سره ذکر شوي دي چې ټول هغه اشخاص چې له غیر اروپایي هېوادونو څخه راځي، باید اروپا ته د ننوتلو پر مهال د هغوې شناخت وشي. که چیرته وېره/ډار لرې نو معلومات وغواړه.

- کله چې پولیس ستاسو د نوم، تخلص، د زېږیدو د نېټې او هویت/ ملیت پوښتنه کوي، په روښانه توګه یې ورته ووایاست او وګورئ چې غه هر څه په سمه توګه نوشته شوي وي.
- که تاسو کوم سند لرئ نو دا خورا مهم دي چې د ستاسو ساتنې لپاره یې وښایاست.
- که چېرته تاسو له یوه خپلوان سره یو ځای یاست، روښانه کړئ چې تاسو څه ډول خپلوان سره یاستئ
- پولیس به ستاسو د مخ یو عکس واخلي او له ستاسي معلوماتو سره به یې یو ځای کړي، همدارنګه د ګوتو نښانونه به مو هم راجستر شي.
- ستاسو شخصي معلومات به د ایټالیا د دولت له لوري په رسمي توګه ثبت شي کوم چی ایټالیا کې به ستاسو د ودې د پروسې لپاره مهم وي
- که چېرته ستاسو عمر له ۱۸ کلونو څخه کم وي، تاسو مستحق یاست چې د اروپایي اتحادیې هر هېواد کې د نړیوال خوندیتوب غوښتنه وکړئ، تر دی پورې که چېرته پولیسوایټالیا کې ستاسو د را رسېدو پر مهال ستاسو د ګوتو نښانونه هم ثبت کړي وي.

## ۵. که چیرته تاسو ځان په وېره یا خطر کې احساس کړې نو څه کولای شئ؟

- ستاسو اراده، امنیت او خوندیتوب خورا ډیر مهم دي.
- تاسو حق لرئ چې د مرستې غوښتنه وکړئ. هڅه وکړئ چې ستاسو وېرې روښانه کړئ، او غوږ به ورته ونیول شي.
- هر هغه څوک چې تاسو ته وایي چې بل اروپایي هیواد ته تلل اسانه او ګړندي دي هغه مو ملګري ندې. په هغه چا باور مه کوئ چې ستاسو په ځای د ستاسو د سفر لپاره د ترانسپورټ پیسې ورکوي، نه په هغه چا چې تاسو ته د سفر لپاره د پیسو درکولو وړاندیز کوي، او نه په هغه چا چې تاسو ته وایي چې دوی به ستاسو سره یوځای سفر وکړي، ځکه چی دوی کولی شي ستاسو د اړتیاوو څخه ګټه پورته کړي.
- له اجازې پرته د اروپایي هېوادونو تر منځ له پولو څخه تېرېدل ستاسو ژوند له ستر خطر سره مخ کولای شي. کېدای شي تاسو د ځورونې او/ یا تاوتریخوالي په ګډون له ډېرو خطرونو سره مخ شئ..
- په سړک پاتې کېدل تاسو له خطر سره مخ کولای شئ او کېدای شي له داسې اشخاصو سره مخامخ شئ چې ستاسو د اړتیاوو څخه ګټه پورته کړي او زیان درته ورسوي.
- که چېرته تاسو په دوکې سره ایټالیا ته راوستل شوي یاست، که چېرته تاسو ستاسو د ارادې خلاف دلته راوستل شوي یاست، که چېرته تاسو یا ستاسو کورنۍ تهدید شوي وي او احساس کوئ چې له خطر سره مخ یاست، که چېرته کوم څوک تاسو کنټرولوي یا مو اړ باسي چې ستاسو د ارادې خلاف کوم یو کار دربا‌ندی وکړئ، که چېرته کوم څوک غواړي چې کوم بل اروپایي هېواد ته مو بوځي مګر تاسو نه غواړئ، **او که چېرته تاسو وېرېږئ، تاسو حق لرئ** چې د مرستې غوښتنه وکړئ او مرسته او خوندیتوب ترلاسه کړئ.
- که چېرته تاسو ځورول شوي یاست یا تاوتریخوالی مو تجربه کړی وي، یا هم په بشپړه توګه پر دې نه پوهېږې چې څه پېښ شوي دي درسره مګر کوم وضعیت کې چی یاستې نه مو خوښیګي ، تاسو حق لرئ چې د مرستې غوښتنه وکړئ او مرسته او خوندیتوب ترلاسه کړئ.
- که تاسو ځان خوندي احساسوې ، د مرکز له کارکوونکو یا له خپل سرپرست څخه مرسته وغواړئ.
- که تاسو پر سړک یاست، له پولیسو څخه مرسته وغواړئ. هغوی له تاسو سره مرسته کولای شي.
- **که په شک کې یاست د ماشومانو د خوندیتوب له ادارې ( Save the Children ) سره اړیکه ونیسئ.**

## ۴. کله چې تاسو بالغ شئ نو څه به پیښ شي، یعنی کله چی تاسو ۱۸ کلن شئ؟

- کله چې تاسو ۱۸ کلنۍ ته ورسېږئ، تاسو کولای شئ په قانوني توګه په ایټالیا کې استوګنې ته دوام ورکړئ او د خپل ژوند مسیر مو په خوندیتوب سره تعقیب کړئ.
- مخکې له دې چې تاسو ۱۸ کلن شئ، له خپل سرپرست او د استوګنې په ځای کې د کارمندانو سره خبرې وکړئ تر څو پوه شئ چې په ایټالیا کې خپل پرمختګ ته د دوام ورکولو لپاره تاسو باید څه وکړئ
- پوه شې چې تاسو ۱۸ کلنۍ ته له رسېدو وروسته څه ډول سند لرلای شئ، د دی سند ترلاسه کولو لپاره څه ته اړتیا لرئ او تاسو باید کومې پروسې تعقیب کړئ.
- په دې اړه معلومات وغواړئ چې ۱۸ کلنۍ ته له رسېدو څخه وروسته تاسو چېرته اوسېدای شئ او څه ډول باید د شمولیت پروسې ته دوام ورکړئ. د اداري دوام پوښتنه وکړئ(یعني د بېلګې په توګه ایا د دې امکان به وي چې تر ۲۱ کلنۍ پورې به ستاسو ملاتړ وشي تر څو خپلو زده کړو ته دوام ورکړئ).